**Warwickshire County Council**
**د واریکشر کونټي کونسل**



# د 3 او 4 کلنو ماشومانو لپاره لومړني زده کړې
# او د ماشوم ساتنې استحقاقونه

د لومړنۍ زده کړې تمویل شوي ځای ته د لاسرسي څرنګوالی

که چېرې ستاسو ماشوم3 یا 4 کلن وي دوی کولي شي د ښوونځي د دورې له پیل څخه د ۳یمی زیږ کلیزې نه وروسته د لومړنۍ زده کړې تمویل شوی ځای ته لاسرسی ومومي او تر هغه چې دوی ښوونځي ته د داخلېدو قانوني عمر ته رسیږي یا د ښوونځي د استقبال (ریسیپشن) ټولګۍ پیل کړي، هر یو یې چې لومړی راشي.

| هغه ماشومان چې د لاندې نېټو ترمنځ زیږېدلي: | وړیا ځایونه پیل کیږي له: |
|---|---|
| د 1 جنوري نه تر 31 مارچ پورې | د اوړي دوره (له 1 اپریل نه |
| د 1 اپریل نه تر 31 اګست پورې | د مني دوره (له 1 سپتمبر نه) |
| د 1 سپتمبر نه تر 31 دسمبر پورې | د پسرلي دوره (له 1 جنوري نه) |

## د لومړنیو کلونو استحقاقونه له لاندې مواردو څخه تشکیل شوي:

- 15 عمومی ساعتونه
- 30 تمدید شوي ساعتونه
- د لومړنیو کلونو زده کوونکو اضافه لګښت (EYPP)
- د معلولینو لپاره د لاسرسي پیسې (DAF)

## زما ماشوم چېرته یو ځای تر لاسه کولی شي؟

ستاسو ماشوم کولی شي د لومړنیو کلونو زده کړو چمتو کونکو سره د لومړنیو کلونو زده کړې ځای ترلاسه کړي، لکه:

- د بشپړې ورځې لپاره د پاملرنې وړکتونونه
- پري-سکولز (مخکې ښوونځي)
- لوب ګروپونه
- د ماشومانو ساتونکي
- وړکتون ښوونځي او ټولګي

د لومړنیو کلونو دا چمتو کونکي باید د آفسټډ Ofsted سره ثبت وي. دوي ستاسو د ماشوم د ځاي لپاره مستقیماً د واریکشر کونټي کونسل څخه د تمویل غوښتنې مسؤلیت لري او د دغه کار د کولو لپاره باید راجستر وي.





## د 3 او 4 کلنو ماشومانو لپاره د لومړنیو کلونو استحقاقونه

د 15 ساعتونو عمومي استحقاق په یو کال کې د حد اقل 38 اونیو په موده کې حد اعظم 570 ساعتونو لپاره دی، په هره اونۍ کې د 15 ساعتونو معادل. که تاسو د 30 ساعتونو تمدید شوي استحقاق لپاره وړتیا لرئ، دا په یو کال کې په حد اقل 38 اونیو کې حد اعظم 1140 ساعتونه دي. د ډیرو اونیو په اوږدو کې په اونۍ کې د لږو ساعتونو په اخیستو سره دا استحقاق د 38 اونیو څخه ډیر اوږد کیدی شي. مهرباني وکړئ خپل د لومړیو کلونو چمتوکونکي ته د معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ چې دوی څنګه تمویل شوي استحقاقونه وړاندې کوي.

### عمومي استحقاق - 15 ساعته

ټول ماشومان د دوی د دریمې کلیزې څخه وروسته په اوتومات ډول د کال د 38 اونیو لپاره د 15 ساعتونو عمومي استحقاق ترلاسه کوي. د وړتیا لپاره د غوښتنلیک کومه پروسه نشته.

### تمدید شوی استحقاق - 30 ساعته

تاسو کولی شئ په اونۍ کې تر 30 ساعتونو پورې د ماشوم پاملرنې تمویل شوی ځای ترلاسه کړئ که تاسو لاندې معیارونه پوره کړئ:

- تاسو یوه داسې کورنۍ یاست چې کار کوئ او په هره اونۍ کې د 16 ساعتونو معادل د ژوندانه ملي حق الزحمې سره برابر عاید لرئ.
- تاسو په کال کې له £100,000 (سل زره) څخه کم عاید ترلاسه کوي.
- ستاسو د ماشوم د دریمې کلیزې څخه وروسته دوره یا د 30 ساعتونو معتبر کوډ د ترلاسه کولو څخه وروسته دوره، هر یو چې وروسته وي.

### د 30 ساعتونو لپاره د غوښتنلیک ورکولو پروسه:

- د هغې دورې څخه مخکې چې تاسو غواړئ چې خپل ځی پیل کړئ، دلته آنلاین www.childcarechoices.gov.uk درخواست وکړئ.
- که ستاسو درخواست بریالي شو، HMRC به تاسو ته ستاسو د خوندي حساب له لارې د 30 ساعتونو وړتیا کوډ درکړي او تاسو باید دا کوډ خپل د ماشوم پاملرنې چمتوکونکي ته ورکړئ.
- ستاسو د ماشوم پاملرنې چمتوکوونکی به وګوري چې ستاسو کوډ اعتبار لري که نه. پس له هغه، بیا تاسو کولی شئ د لاندې مودې لپاره د 30 ساعتونو ځای خوندي کړئ. د کوډ د اعتبار پیل نیټه باید د تېرې دورې وروستی ورځ وي یا تر وروستۍ روځ شاته وي:
  - د منۍ دوره: د اعتبار پیل نیټه د اګست په 31 یا مخکې له دې نېټې
  - د پسرلي دوره: د اعتبار پیل نیټه د دسمبر په 31 یا مخکې له دې نېټې
  - د دوبي دوره: د اعتبار پیل نیټه د مارچ په 31 یا مخکې له دې نېټې
- تاسو اړ یئ چې په هرو 3 میاشتو کې خپل خوندي حساب ته ننوځئ او خپله وړتیا بیا څرګنده او تأیید کړئ. تاسو به د HMRC لخوا هم د نېټې څخه 4 اونۍ دمخه خبرداری او یادونه تر لاسه کړئ.

د نورو معلوماتو او د 30 ساعتونو د کوډ د تر لاسه کولو لپاره مهربان وکړئ دلته مراجعه وکړئ:

www.childcarechoices.gov.uk

### څنګه کولې شم زما د لومړنیو کلونو استحقاق غوښتنه وکړم؟

د لومړنیو کلونو استحقاقونه د لومړنیو کلونو هغو چمتوکونکو ته په مستقیم ډول ورکول کیږي چې ستاسو ماشوم پکښې ګډون کوي. کله چې تاسې د والدین اعلامیې فورمه (PDF) هغوی سره ډکه کړئ، هغوی ستاسو په استازیتوب د تمویل غوښتنه کوي.



## د لومړنیو کلونو زده کوونکو اضافه لګښت یا پریمیم

د لومړنیو کلونو زده کونکي لپاره تمویل شوی لګښت (EYPP) یو اضافي لګښت دی چې د هغو چمتوکونکو لخوا غوښتل کیدی شي چې ورسره داسې ماشومان موجود دي چې د 3 او 4 کلونو د تمویل نړیوال استحقاق ترلاسه کوي او چیرې چې د ماشوم والدین ورې مرستې ترلاسه کوي.

هغه ماشومان یا میندې پلارونه چې د لاندې ملاتړي تادیاتو څخه یو یا ډیر ترلاسه کوي، د EYPP ترلاسه کولو وړ دي:

- یونیورسل کریډیټ - په دې شرط چې دوی د 7,400 پونډ څخه ډیر کلني خالص عاید ونلري، لکه څنګه چې د دوی د درې وروستي ارزوني د دورو څخه د عوایدو پر بنسټ ارزول شوی
- اینکم ساپورټ (د عاید ملاتړ)
- اینکم بیسډ جاب سیکرز الوینس (د عاید پر بنسټ د کار موندونکي مالي مرسته)
- اینکم ریلیټډ ایمپولایمنټ اینډ ساپورټ الوینس ( د عاید اړوند د کارموندني او ملاتړ مالي مرسته)
- د 1999 کال د مهاجرت او پناه غوښتنې قانون د شپږمې برخې لاندې ملاتړ. 95/4 او 98 برخې (NASS)
- چایلډ تکس کریډټ، په دې شرط چې دوی د ورکنګ تکس کریډټ مستحق نه وي او کلني عاید یې د HMRC د ارزونې پر بنسټ د £16,190 څخه ډیر نه وي.
- چیرته چې مور یا پلار د ورکنګ تکس کریډټ اضافه استحقاق د ترلاسه کولو مستحق وي (یعنې هغه تادیه چې یو څوک د ورکنګ تکس کریډټ لپاره د وړتیا ختمیدو څخه وروسته د نورو څلورو اونیو لپاره یې ترلاسه کوي).

یا

➢ ماشوم

- لړترلږه د یوې ورځې لپاره د ځایي چارواکو لخوا په پاملرنه کې پاتې شوی
- د پاملرنې څخه په فرزندي نیول شوی
- د ځانګړي سرپرستۍ له لارې پاملرنه پریښې
- د ماشوم تنظیم کولو حکم

## څنګه غوښتنه کولای شئ

د لومړنیو کلونو زده کونکي اضافه لګښت (EYPP) د غوښتلو لپاره، تاسو باید په PDF (یا د والدینو اعلامیه فورمه) کې، چې د لومړنیو کلونو چمتو کونکي لخوا درکړل شوې، د EYPP غوښتنې برخه په بشپړ ډول ډکه او لاسلیک کړئ.

## د معلولیت د لاسرسي بودیجه (DAF)

د معلولیت د لاسرسي پیسې (DAF) ته د ورتیا لپاره 3 او 4 کلن ماشومان باید دغه معیارونه پوره کړي :

- ماشوم د معلولیت ژوندانه مالی مرسته (ډیسیبلیټي لیونګ الوینس) یا (DLA) اخلي – (یوه کاپي باید د ماشوم د پاملرنې چمتوکونکي ته ورکړل شي)

او

- ماشوم د نړیوال عمومي استحقاق یو څه یا ټول 15 ساعتونو استحقاق ترلاسه کوي

## څنګه غوښتنه کولای شئ

د معلولیت د لاسرسي پیسې (DAF) د غوښتلو لپاره باید د والدینو د اعلامیې فورمه (PDF) کې، چې تاسو ته د لومړنیو کلونو د چمتوکونکو لخوا درکړل شوې، د DAF غوښتنې برخه په بشپړ ډول ډکه او لاسلیک کړئ.

## د لومړنیو کلونو استحقاقونه

### مکرري پوښتنې

- **لګښتونه**

د لومړنیو کلونو د استحقاقونه موخه دا ده چې په اونۍ کې 15 یا 30 ساعته تمویل شوي، د لوړ کیفیت لرونکي، انعطاف منونکي ماشوم ساتنې خدمتونه وړاندې کړي. د خواړو، نورو مصرفي توکو، اضافي ساعتونو یا اضافي خدماتو لپاره کیدی شي له والدینو څخه فیس واخیستل شي.

- **آیا زه کولی شم د لومړنیو کلونو چمتوکونکو څخه په څو ځایونو کې د لومړنیو کلونو استحقاق غوښتنه وکړم؟**
هو، په یوه ورځ کې تر 2 ځایونو پورې.

- **آیا زه کولی شم خپل د ماشوم ساتنې چمتوکونکی بدل کړم؟**
تمویل عموماً د ټولې مودې لپاره هغه چمتوکونکي ته ورکول کیږي چېرې چې ستاسو ماشو د سرشماري په ورځ پکښې ګډون کوي. که چېرې ستاسو ماشوم له سرشماري ورځې څخه مخکې یا وروسته بل چېرې ځي، تاسو باید د خپل د لومړنیو کلونو چمتوکونکي سره خبرې وکړئ ترڅو معلومه کړئ چې آیا دوی موافقه کوي چې کوم بل تمویل کونکي ته پیسې ولېږي که نه.



په واریکشر کې د ماشوم د پاملرنې چمتو کونکو په اړه د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د کورنۍ معلوماتو خدماتو سره په لاندې ډول اړیکه ونیسئ:
01926 742272 یا www.warwickshire.gov.uk/fis

د تمویل په اړه د عمومي پوښتنو لپاره مهرباني وکړئ د لومړیو کلونو تمویل ټیم سره په اړیکه ونیسئ:
01926 742233 یا www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts

د 30 ساعتونو د تمویل لپاره د وړتیا او آنلاین غوښتنلیک په اړه د پوښتنو لپاره مهرباني وکړئ دلته اړیکه ونیسئ:
د HMRC د پیرودونکو د تعامل مرکز
ټلیفون شمېره: 0300 123 4097 یا www.childcarechoices.gov.uk



تازه معلومات October 2022



Warwickshire County Council

Working for Warwickshire